# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د تلې شپږمه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۲۷مه | ۶۰۰مه گڼه


# د حکومت چوپتیا که کمزوري؛

## کابل ښار د طالبانو او وسله والو غلو د ټوپک تر شپېلۍ لاندې دی



۳

### په دوحه کې د خبرو پخ بهیر او د فشار اړتیا

۲ مخ

### ایا پر افغان طالبانو د پاکستان تاثیر مخ په کمېدو دی؟

۲ مخ

### د ملگرو ملتونو د ۷۵یمې کلیزې په مناسبت د شي جین پینگ وینا

۳ مخ

## راپورونه: پنټاگون به ډېر ژر افغانستان ته سلگونه تازه دمي سرتېري ولېږي

د راپورونو له مخې، د امریکا دفاع وزارت اعلان کړی چې ډېر ژر به افغانستان ته نور سلگونه سرتېري ولېږي.
د یاد هېواد د (ارمي ټایمز) په نوم رسنۍ چې ډېری د امنیتي ځواکونو په اړه خبرونه خپروي، په یوه تازه راپور کې ویلي چې پنټاگون پلان لري چې په مني کې سلگونه سرتېري افغانستان، جنوبي کوریا او ځینو اروپایي هېوادونو ته ولېږي.
سرچینې دغه راز زیاته کړې چې په دې موده کې به امریکا شاوخوا ۱۶۰۰ سرتېري په دوره یي توگه افغانستان ته د هغو سرتېرو پر ځای ولېږي، چې هلته یې د دندې موده بشپړېږي.
دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې امریکایي ځواکونو له طالبانو سره له تړون وروسته جگړه درولې او یوازې ځینې وختونه د ترهگرۍ پر ضد ځانگړي عملیات ترسره کوي. د راپورونو له مخې، په افغانستان کې شاوخوا ۱۲ زره امریکایي سرتېري مېشت وو، خو د امریکا او طالبانو ترمنځ له تړون وروسته دا شمېر ۸۶۰۰ ته ټیټ شوی دی.
اوس امریکایي چارواکو ویلي چې دغه شمېر پنځو زرو ته ټیټېږي او د تړون له مخې، باید صفر ته راټیټ شي، خو امریکا دا هم ویلي چې د سرتېرو ایستل یې مشروط دي او که طالبانو ژمنې عملي نه کړې، نو په افغانستان کې به پاتې وي.

## خلیلزاد: د سولې تړون تر بشپړېدو پورې د طالبانو له خوا د اوربند منل ناشوني دي



۲ مخ

## پوهنتون

۴ مخ

### ابو نصر د لوړو زده کړو موسسه

پر کتابتون، کمپیوټر لب، لوبغالو او شنې ساحې سربېره، یادې موسسې د خپلو محصلینو د وړتیاوو لوړولو لپاره یو څېړنیز مرکز هم جوړ کړی دی.

## د کلیو د پراختیا وزارت: په هېواد کې د ۲.۱۴۷ میلیارده افغانیو په لگښت ۲۵۹ پروژې پلې کېږي



د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د هېواد په بېلابېلو سیمو کې په نږدې یوه کال کې د دوو میلیارده او ۱۴۷ میلیونه افغانیو په لگښت ۲۵۹ پروژې پلې کوي.
د دغو پروژو تړونونه تېره ورځ د یاد وزارت نوماند وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي له پرمختیایي شوراگانو سره لاسلیک کړي دي. سرچینې وایي چې د یاد وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام په اړوندو یادو پروژو کې د څښاک اوبو او د اوبو رسولو د شبکو کانالونه، ۱۰۸ کیلومتره سړک، استنادي دېوالونه، پلونه او ځاگانې شاملې دی چې ۱۰۷ یې د کوچیانو لپاره ځانگړې شوې دي. د کلیو د بیارغونې او پراختیا نوماند وزیر په وینا، په یادو پروژو ټول دوه میلیارده ۱۴۷ میلیونه افغانۍ لگښت راځي. د ده په وینا، له دغو پروژو ۱۱ المان تمویلوي، ۸۵ میلیونه یې د اسیا پرمختیایي بانک ورکوي او پاتې نور د افغانستان د دولت له بودیجې ورکول کېږي.

## شورای عالی مصالحه: تداوم و شدت جنگ افغانها را نگران کرده است



شورای عالی مصالحه ملی افغانستان یک بار دیگر از طالبان خواست که در جریان مذاکرات صلح آتش‌بس کنند. این در حالیست که از مذاکرات بین افغانها در قطر دو هفته تکمیل می شود، اما طرفین تا حال در مورد طرزالعمل مذاکرات به نتیجه نرسیده اند.
فریدون خوځون سخنگوی شورای عالی مصالحه ملی افغانستان از شهر دوحه قطر به رادیو آزادی گفته است که دوام جنگ مردم را نگران ساخته است.
او افزوده است: «خواست ما از جانب طالبان این است که جنگ در افغانستان شدت پیدا کرده که نگرانی مردم افغانستان را برانگیخته، امیدواری ما این‌است که نخست جنگ متوقف شود و پروسه صلح افغانستان به پیش برده شود.»
در عین حال قرار است رئیس شورای عالی مصالحه ملی افغانستان عبدالله عبدالله روز دوشنبه به اسلام‌آباد برود و در مورد مذاکرات بین افغان‌ها با مقامات پاکستان صحبت کند. سخنگوی شورای عالی مصالحه ملی می‌گوید که در تلاشهای کنونی صلح افغانستان نقش پاکستان مهم است.
این درحالیست که زلمی خلیلزاد، نماینده ویژه امریکا برای صلح افغانستان گفته است که تا تکمیل شدن مذاکرات میان افغانها و امضای توافقنامه، ممکن نیست که طالبان حملات شان را متوقف سازند.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریـځ

# په دوحه کې د خبرو پخ بهیر او د فشار اړتیا

د سولې د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره پر اصولو او کړنلاره د بحثونو دریمه اونۍ پیل شوې، خو لا هم توافق نه دی شوی. که څه هم دواړه لوري د مثبتې فضا او پرمختګونو خبرې کوي، خو واقعیت دا دی چې پر مختګ لږ دی او لا هم جدي او اساسي مسایل شته چې پرې د دواړو اړخونو تر منځ پراخ اختلاف دی. داسې تمه هم نه کېږي چې دا اختلاف به ژر حل شي او د بین الافغاني خبرو پیل ته به لاره هواره کړي.

که واټن همداسې وي او کوم مهم بدلون را نه شي، نو پر هوکړه او اصولو توافق به ډېر وخت ونیسي او بیا به بین الافغاني خبرې هم اوږدې او لانجمنې وي. په دې ډول خبرې له میاشتو کلونو ته اوړي. د افغانستان خلک غواړي چې دا ستونزه په څو میاشتو کې حل شي، ځکه چې د جګړې دوام هره ورځ د بې‌ګناه وګړو ژوند اخلي او له بله اړخه اوږدېدل یې د ماتې وېره هم زیاتوي او که په سیمه، نړۍ او افغانستان کې حالت بدل شي، نو بیا به د سولې دا چانس هم ضایع شوی وي.

اصلي ستونزه دا ده چې دواړه اړخونه لا هم هغسې دریځ نه لري چې د سولې لپاره یې اړتیا لیدل کېږي. طالبان د فتحې ذهنیت لري او خبرو ته د واک د لېږد د یوې پروسې په سترګه ګوري چې بیا به پکې دوی پر نورو افغاني اړخونو احسان کوي او په واک کې به یې هغسې شریک کوي چې دوی یې غواړي. له بله اړخه حکومت فکر کوي چې طالبان به ورته تسلیمېږي او د اساسي قانون په ګډون به د تېرو اتلسو کلونو په اصطلاح لاسته راوړنې مني. همدا چې طالبانو اساسي قانون ومانه، د اشرف غني واکمنې یې د یوې ورځې لپاره هم ومنله او د تېرو اتلسو کلونو په حاکمو ارزښتونو کې یې کوم بدلون را نه وست، دا له تسلیمۍ پرته بله مانا نه لري او حکومت همدا غواړي. له همدې امله د دواړو اړخونو تر منځ واټن زیات دی او همدا چاره پر کړنلاره او اصولو د توافق په برخه کې هم د خنډ سبب شوې ده.

اوس دوې لارې شته؛ یا خو به دواړه اړخونه خپل دریځونه نرموي، د مقابل لوري د تسلیمۍ او فتحې له فکره به را وځي او د سولې فکر به خپلوي. یا به هم بیا امریکا فشار راوړي او دواړه اړخونه به تنازل یا یو اړخ به د بل لوري د ډېرو غوښتنو منلو ته اړ باسي. د اوس لپاره دا لرې ښکاري چې دواړه اړخونه به له خپلو دریځونو پخپله تېر شي، خو د امریکایي فشار احتمال شته. که څه هم امریکایي اړخ اوس د مسوولیت احساس نه کوي او فکر کوي چې دوی خپل کار کړی او جګړه یې له خپله اړخه ختمه کړې ده، خو د امریکا ګټو ته په پام سره به امریکا حتمي مداخله کوي او فشار به یې د دریځونو د بدلون سبب ګرځي.

خو د امریکا له فشار وړاندې دواړو اړخونو ته پکار ده چې خپله د سولې دریځ خپل کړي. د مقابل لوري د تسلیمۍ فکر پرېږدي او پخپله د سولې له دې چانس څخه ګټه واخلي. په دې ډول به هم افغاني ګټې خوندي شوې وي او هم به له تاریخي ملامتۍ خلاص وي. که دوی دا کار نه کوي او د امریکا په فشار یې کوي، نو افغانستان به زیان کوي او تاریخ به هم د دوی په اړه خپل قضاوت ولري.

# ایا پر افغان طالبانو د پاکستان تاثیر مخ په کمېدو دی؟

ژباړه: محمدعاصم

دا چې اوس بین الافغاني خبرې په دوحه کې جریان لري، د نورو بدلونونو په شان، د پاکستان او طالبانو تر منځ اړیکې هم مخ د یوه نوي تکامل په لوري دي. دلته یوه بله د بحث وړ خبره دا ده چې د افغانستان د سولې لاره نوره له اسلام آباد څخه نه تېرېږي. د افغان سولې په اړه له بین الافغاني خبرو څخه وړاندې د طالبانو د مشرتابه په کچه ادلون بدلون وشودله چې طالبان نور په دې هڅه کې دي، چې د پاکستان له سیوري څخه ځانونه را وباسي. د طالبانو مشري د خپل سیاسي مشروعیت په ځواکمنولو کې ده، په ځانګړې توګه له امریکایانو سره د فبروري میاشتې د هوکړې په برخه کې د دوی دا هڅه له ورایه ښکارېدله او بل دا چې دوی غوښتل څو نور د پاکستان د نیابتي جګړه‌مارو ټاپه له ځانه پاکه کړي.

دا چې پاکستان په افغانستان کې د خلکو تر منځ یو ښه تصویر نه لري، له طالبانو سره د دوی دا ډول اړیکې لړل به د پاکستانیانو اعتبار نور هم ور خراب کړي. حتی تر دې مهاله د طالبانو د اقتصادي استقلالیت جوړښت له ستراتیژیک اړخه د پاکستان غوښتنو ته ځواب ویونکې پاتې شوی دی. دلته یوه بله خبره هم په زړه پورې ده چې د بین الافغاني مذاکراتو نور پړاوونه به په اسلام آباد کې نه؛ بلکې د ناروې په اوسلو، د ازبکستان په تاشکند او یا د قطر په دوحه کې وي. د طالب- امریکا د هوکړې پر مهال د پاکستان د مرکزي رول پر خلاف، د بین الافغاني خبرو پر مهال به هم د پاکستان دا ډول مرکزي رول لوبول بې برخې وي، د پاکستان رول به لکه د سیمې د هیوادونو په شان یوازې د یوه اسانتیا برابروونکي په شان وي.

د اوس لپاره پاکستان د افغانستان د فعلي حالت په برخه کې نه غواړي چې د سپټمبر له پېښې مخکې په شان موقع یو ځل بیا را منځ ته شي، پاکستان دا هیله لري چې طالبان د افغانستان په اوسني جوړښت کې ور دننه شي. د پاکستان فکر اوس د دوو انتخابونو تر منځ خراب دی، ایا امریکایان به په یو وار له افغانستان څخه ووځي او که د افغان سولې لپاره به یو ځواکمن ضامن پیدا نه شي؟ واک ته د طالبانو په یوه داسې ډول رسېدل چې هر څه به د دوی تر واک لاندې وي، د دې لامل شي چې دلته په افغانستان کې د دوی مورال زیات ځواکمن شي او هلته په پاکستان کې به د جهادي ډلو ټپلو د ځواکمنېدو لامل هم شي او له طالبانو سره د همدردۍ له امله به د دیوبندي مدرسو د راډیکاله خوځښتونو یو نوی موج را ولاړ کړي. په تېرو څو میاشتو کې طالب مشرانو څو داسې ګامونه اخیستي دي چې پر پاکستان د تکیې کول به تر ټولو کمې کچې ته ورسول شي. په دې برخه کې د ملا یعقوب چې د ملا عمر مشر زوی دی، د دوی د نظامي کمېسیون د مشر په حیث ټاکنې ته کیدای شي ګوته ونیول شي. ملا یعقوب د طالبانو تر منځ د ځوان نسل استازیتوب کوي، نوموړی داسې کس نه دی چې په پاکستان کې اوسېدلی وي او نه هم یو داسې کس دی چې د پاکستان کوم بار پر خپلو اوږو یوسي. د ملا عبدالحکیم اسحاقزي ټاکنه هم دې ته یوه ورته پېښه ده، عبدالحکیم اسحاقزی د دوی مخکینی قاضي القضات او اوس د بین الافغاني خبرو د هیئت مشري کوي. عبدالحکیم اسحاقزی د محمدعباس ستانکزي هغه کس چې پاکستان ته زیات نږدې دی، ځای‌ناستی شو. پر دې چوکۍ د عبدالحکیم اسحاقزي ټاکل نه یوازې دا چې د طالبانو سخت دریځي په ګوته کوي؛ بلکې دا څرګندوي چې دوی به د شریعت پر تطبیق له چا سره معامله هم ونه کړي. دې ته په ورته ډول طالبانو له کابل څخه غوښتنه وکړه څو په راتلونکي کې د دوی خوشې کړای شوي بندیان قطر ته واستوي، دوی همدارنګه خپله رهبري شورا په افغانستان، قطر او پاکستان کې سره ووېشله، دا ټول د دې څرګندویي کوي چې دا ډله نور خپل ځان د اسلام آباد له ملاتړ څخه ازادوي.

د پاکستان او طالبانو اړیکې د همیشه لپاره نرمې او بدلون منونکې پاتې شوې وي، دا د دې له امله وې څو پاکستان پر دې ډله یو ډول واک وساتلی شي. پر یاده ډله د پاکستان تاثیر لرل هغه مهال تر ټولو لوړې کچې ته ورسېد، چې کله دا ډله له سیاسي اړخه د کوم څه په تر لاسه کولو کې تر ټولو کمزورې او مردود حالت ته ورسېدله. هغه مهال د دوی تر منځ اړیکې د وروري او رښتینولۍ پر بنسټ نه وې، بلکې هغه مهال د دوی تر منځ اړیکې پر دې بنسټ جوړېدې چې چا ته څومره ګټه رسېږي او هر څوک د ځان لپاره کوم بدیل لري.

د پاکستان – طالبانو اړیکې هغه مهال مخ په بدلېدو شوې چې کله طالبانو په هېواد کې بریا تر لاسه کړه، سیمې یې تر کنټرول لاندې راوستې، سیاسي نفوذ او مالي استقلالیت یې تر لاسه کړ. هغه مهال د پاکستان له لوري پر طالبانو نفوذ د دې له امله و، چې دوی ته یې خوندي ځای برابر کړی و، خو دا نفوذ هغه مهال کم شو چې دې ډلې په افغانستان کې پراخې ځمکې لاندې کړې. د طالبانو له لوري په افغانستان کې د زیاتو ځمکو لاندې کول په دې مانا وو، چې د ځان لپاره زیات پټنځایونه ولري او پر پاکستان لږ اتکا وکړي. په ورته شکل اوس په قطر کې د طالبانو د دفتر افتتاح دوی ته دا موقع په لاس ورکړه، چې خپلې اړیکې لا هم پراخې کړي او د سیمې له هیوادونو لکه له چین، روسیې او ایران سره اړیکې وپالي. دې هیوادونو هغه مهال د خپلو اړیکو دروازې د طالبانو پر مخ پرانیستې، چې کله په ۲۰۱۵ کال کې په افغانستان کې داعش سر را پورته کړ او د خراسان په نوم یې یو ولایت تشکیل کړ. دا هیوادونه په دې پوهېدل چې د داعش خراسان ولایت ظهور د دوی د ملي امنیت او بهرنیو تجارتي موادو د ورتګ لپاره یو ګواښ دی، دا ګواښ د دوی د اقتصادي ودې لپاره لکه د شترنج د چیک مات د اخطار په مانا و.

په پخوا وختونو کې د پاکستان امنیتي ادارو د طالبانو د اعمالو د تنظیم په خاطر یو ډول مرکب اعمال لکه د تبعیض او نیول تر سره کول، څو طالبان د دوی له خوښې سره سم همکارۍ ته مجبور کړي. د بېلګې په توګه، په ۲۰۱۰ کال کې یې ملا عبدالغني برادر، د ملا عمر مرستیال ونیو، هغه هڅه کړې وه څو په یو اړخیزه توګه د ناروېژي ډیپلومات کای آیده له لارې له افغان جمهور رییس حامد کرزي سره د خبرو لپاره په اړیکه کې شي. دې ته په ورته پېښه کې په ۲۰۱۴ کال کې پاکستان د طیب آغا دوه ورونه په موقته توګه له دې امله ونیول، چې له آی اېس آی پرته یې په مستقیمه توګه له امریکا سره خبرې کول غوښتل. د یادو ټولو پېښو پر خلاف پاکستان په ۲۰۱۵ کال کې طالبان په دې وګواښل که له کابل سره خبرې پیل نه کړي، له پاکستان څخه به وشړل شي. هغه مهال دا ډله د دې پر ځای چې د پاکستان ګټو ته اوره ورکړي، دې ته تیاره وه چې له پاکستان څخه ووځي. دا بېلګې څرګندوي چې دا ډله همیشه غواړي چې له پاکستان څخه د خپلواکۍ پر لاره روانه وي.

د سږ کال د مې په میاشت کې داسې آوازه خپره شوه چې طالبانو په صراحت سره د کشمیر په جګړه کې له ګډون څخه انکار کړی و، وروسته بیا امریکا وویل چې له افغانستان څخه په ټولیز ډول خپل ځواکونه وباسي، دا ټول ښیي چې طالبان نه غواړي په راتلونکې کې د هند-پاکستان نیابتي جګړو کې ښکېل شي. د ټولنیزو رسنیو یادو آوازو ته په ځواب کې د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین یو ځل بیا په دې ټکي ټینګار وکړ، چې د طالبانو پالیسي دا نه ایجابوي چې د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کې مداخله وکړي.

له دې علاوه، د پاکستان له ټولو شکایتونو او سر ټکولو سره سره، افغان طالبانو هېڅکله هم د پاکستاني طالبانو (TTP) پر خلاف په افغانستان کې له خپلو پټنځایونو څخه کوم عمل نه دی تر سره کړی. د تحریک طالبان پاکستان جنګیالي له خپلو پټنځایونو څخه خپلو بریدونو ته دوام ورکوي. د دې ټولو پر خلاف، هغه مهال چې کله د داعش خراسان ډلې د تحریک طالبان پاکستان له پنځایونو څخه سر را پورته کړ او د افغان طالبانو د واکمنۍ ایډیالوژي یې وګواښله، سخت ځواب ورکړل شو. طالبانو د تحریک طالبان پاکستان ډلې دا کار په خپلو چنو وهلو کې له پاکستان سره د یوه دلیل په ډول وکاراوه.

په دوحه کې د بین الافغاني خبرو له هر راز نتایجو سره سره، پر طالبانو د پاکستان نفوذ به لا هم کمېږي. دې ته په کتو سره، پاکستان باید د افغانستان له هرو قومي او سیاسي ډلو سره د خپلو اړیکو لاره خپله کړي او یو ځل بیا د وړو او امنو لارو پرانیستلو له لارې د یوې هر اړخیزې پالیسۍ پر لوري ګامونه پورته کړي.

دا مقاله د امریکا نشنل انټرسټ مجلې، د طالبانو د تحریک د اوسني وضعیت په اړه خپره کړې ده. د دې مقالې لیکوال عبدالباسط دی، نوموړی په سنګاپور کې د راجاراټرام د نړیوالو مطالعاتو څېړونکی دی.

## <u>خلیلزاد:</u> د سولې تړون تر بشپړېدو پورې د طالبانو له خوا د اوربند منل ناشوني دي

په داسې حال کې چې له یوې خوا ټوله نړۍ په افغانستان کې د اوربند غوښتنه کوي، خو د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد وایي چې له افغان دولت سره تر بشپړ تړونه پورې د طالبانو له خوا د اوربند منل ناشوني دي.

خلیلزاد دغه څرګندونې له امریکایي ټلوېزیون (پي بي سي) سره په یوه ځانګړې مرکه کې کړې او ویلي یې دي چې طالبان تر بشپړ تړون مخکې اوربند نه مني.

هغه ویلي، طالبان هڅه کوي چې د افغان شخړې تر سیاسي جوړجاړي پورې انتظار وکړي او که بشپړ تړون وشي، بیا اوربند ته لاره هوارېږي. دا په داسې حال کې چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو پر مهال زلمي خلیلزاد څو ځله دا خبره تکراروله چې له هر اړخیز اوربند پرته امریکا له طالبانو سره تړون نه کوي، خو بیا له اوربند پرته یې دغه تړون لاسلیک کړ.



په ورته وخت کې په افغانستان کې د موقت حکومت جوړېدو په تړاو زلمي خلیلزاد د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي چې افغان حکومت او طالبان په خپلو مذاکراتو کې پر دې مسئلې خبرې کوي. هغه زیاته کړې: «دا په افغانانو پورې تړاو لري چې څه ډول سیاسي لار نقشه جوړوي.» نوموړي ویلي، دغه لومړی ځل دی د بهرنیو ځواکونو وتلو پر مهال افغانان سره راټول شوي، څو یوه سیاسي جوړجاړي ته ورسېږي، دا په داسې حال کې چې له افغانستانه د شوروي اتحاد ځواکونو د وتلو پر مهال افغانان په خپلو کې سره نه وو ناست. د هغه په وینا، د افغانستان په تاریخ کې دا یو غیر معمولي پرمختګ دی چې افغانانو کړی دی.

د امریکا ځانګړي استازي ویلي، دوی غواړي چې د افغانستان جګړه ژر تر ژره پای ته ورسېږي، امریکا په بین الافغاني مذاکراتو کې دخیله نه ده او نه هم پر هغوی کوم ډول فشار راوړلی شي.



# د ملگرو ملتونو د ۷۵یمې کلیزې په مناسبت د شي جین پینگ وینا

ژباړه: زرینه
د چین میډیا گروپ د پښتو څانگې خبریاله

**ښاغلی رییس او درنو همکارانو!**

پنځه اویا کاله دمخه نړیوالو د فاشیزم پر ضد تر سختو جگړو وروسته بریا ومونده، چې دا د عدالت او نړیوالو لپاره یو ستر بریالیتوب دی.

د تېرې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې تر دوو لویو جگړو وروسته، د ملگرو ملتونو سازمان جوړ شو چې تر اوسه پنځه اویا کالونه تېر شوي او د نړیوالې سولې او پرمختگ نوې پاڼه اړول شوې ده.

د ملگرو ملتونو د جوړېدو له پنځه اویا کلونو راهیسې بشري ټولنې چټک پرمختگونه کړي دي. موږ د علمي ټکنالوژۍ ډېر پرمختگ لیدلی او صنعتي انقلاب مو تجربه کړی دی او اوس علمي ټکنالوژي او صنایع د لا پراخ او لا ژور پرمختگ په حال کې دي. په نړۍ کې د تولیدي چارو توان ډېر زیات پیاوړی شوی، د ستونزو د لرې کولو او د نړۍ د لا آبادۍ لپاره د انسانانو توان هم ډېر لوړ شوی دی.

په تېرو ۷۵ کلونو کې په نړیوالو حالاتو کې ستر بدلونونه رامنځ ته شوي. ډېرو پرمختللو هېوادونو استقلال او خپلواکي اخیستې، د نړۍ له یو میلیارد ډېر خلک له بې وزلۍ څخه وتلي او د میلیونونو خلکو ژوند عصري شوی، چې په دې توگه نړیوالې سولې او پرمختگ زیات قوت اخیستی او د نړۍ جوړښت ډېر بدل شوی دی.

په تېرو ۷۵ کلونو کې څو اړخیزم په چټکۍ سره پراخ شوی دی. د نړیوالو مسئلو په زیاتېدو سره نړیوالې ننگونې هم ورځ تر بلې زیاتې شوې او د حل لپاره یې د بېلابېلو هېوادونو تر منځ ډیالوگ او همکارۍ ته اړتیا ده. بېلابېلې خواوې د نړیوالو مسئلو د حل په اړه سلامشورې کوي او نړیواله ټولنه موافقې ته رسېدلې چې ستونزې دې په گډې همکارۍ حل شي.

په هره تیاره پسې رڼا وي، ملگري ملتونه هم له ډېرو مکررو ستونزو او ننگونو څخه په راوتلو سره لا ځواکمن شوي. د نړۍ د کابو اوو میلیاردو انسانانو د نېکمرغه او سوکاله ژوند د برابرولو هیلې پوره کولو لپاره هڅې کوي او د ملگرو ملتونو منشور لا هم د نړیوالې سولې او پرمختگ په تضمینولو کې مهم رول لوبوي.

**ښاغلی رییس!**

اوسمهال نړۍ په یو بې ساري بدلېدونکي حالت کې ده. کرونا وبا د ټولې نړۍ لپاره یوه سخته ازموینه ده. انسانان د پیوستون نوې زماني ته داخل شوي او د بېلابېلو هېوادونو گټې او برخلیک یو له بل سره تړاو لري. له نړیوالو گواښونو او ننگونو سره مقابله د بېلابېلو هېوادونو قوي تدبیرونو ته اړتیا لري. د نوي حالت او ننگونې پر وړاندې مونږ باید فکر وکړو چې نړۍ څه ډول ملگرو ملتونو ته اړتیا لري او ملگري ملتونه دې له کرونا وبا وروسته څه ډول رول ولوبوي؟ زه په دې اړه څو مادهییز وړاندیز لرم.

**لومړی: ملگري ملتونه باید تل د عدالت تر څنگ ولاړ وي**

هېوادونه د حقوقو له پلوه سره مساوي او برابر دي، لوی او وړوکی یو پر بل برتري او لوړاوی نه لري او باید د متقابل درناوي اصل مراعات کړي.

هېڅ هېواد پر نړیوالو چارو د حاکمیت، د نورو د برخلیک ټاکلو او انکشافي غوره والي د انحصار او پر ټولې نړۍ د تسلط حق نه لري. یو اړخیزم به خامخا ناکام شي. موږ دې پر گډې سلامشورې، ابادۍ او شراکت ټینگار وکړو. بېلابېل هېوادونه دې عامه امنیت په گډه وساتي، د نړۍ پرمختیایي لاسته راوړنې دې یو له بل سره شریکې کړي او د نړۍ د برخلیک لپاره دې په گډه پرېکړه وکړي. په ملگرو ملتونو کې د پرمختیایي هېوادونو استازیتوب او د وینا حق دې پیاوړی شي، څو ټول هېوادونه په برابره او متوازنه توگه په ملگرو ملتونو کې ځانونه شریک وگڼي.

**دویم: د نظم قوانین باید پلي شي**

د ملگرو ملتونو منشور د نړیوالو اړیکو د تنظیمولو او د نړیوال نظم ساتلو بنسټ دی. نو موږ باید له دې منشور څخه کلکه ساتنه وکړو. د مختلفو هېوادونو تر منځ اړیکې او گټې دې د اړوندو نظامونو او قواعدو له مخې تنظیم شي، د لوی موټې لرونکو هېوادونو لخوا یې باید پرېکړه ونه شي.

لوی هېوادونه دې د نړیوالو قوانینو په مراعات او ساتلو کې ښه نمونه وگرځي، خپلې کړې ژمنې دې پوره کړي، هېڅوک باید ځانگړی امتیاز ونه لري، دوه گوني معیارونه دې نه ساتي، نړیوال قوانین دې ناسم تعبیر نه کړي، د قانون په پلمه دې د نورو هېوادونو حقه حقونو ته زیانونه نه رسوي او نړیواله سوله او ثبات دې نه ویجاړوي.

**درېیم: گډې همکارۍ دې وهڅول شي**

د نړیوالو همکاریو هڅول د ملگرو ملتونو د جوړېدو اصلي موخه ده او د ملگرو ملتونو د منشور تمرکز هم دی. د سړې جگړې فکر، ایډیالوژیک مسایل او سیالي نه یوازې د هېواد داخلي ستونزې نه شي حل کولی، بلکې د انساني ټولنې پر وړاندې گډې ننگونې هم نه شي لرې کولی. موږ باید د شخړو، گواښ او مبارزې پر ځای خبرې اترې، سلامشورې او گډې گټې انتخاب کړو، د هېواد گټې باید د نورو هېوادونو له گډو گټو سره شریکې وگڼو، د بېلابېلو لوریو گډې گټې دې پراخې کړو او د همغږۍ او همکارۍ نړیوالې ټولنې د ابادۍ لپاره دې هڅې وکړو.

څلورم: د څو اړخیزم د عملي کېدو لپاره دې رښتیني گامونه پورته شي. څو اړخیزم باید تش نوم نه وي، بلکې عملي دې شي او د عملي کېدو په بهیر کې دې مثبتې اغېزې ولري. ملگري ملتونه دې د ستونزو پر حلولو تمرکز وکړي، د حل پایلې ته یې دې پاملرنه وکړي او پر دې اساس دې نړیوال امنیت، پرمختگ او بشري حقوق وهڅوي. په تېره بیا باید د ۲۰۳۰ کال د دوام لرونکي پرمختگ اجنډا د پلي کولو له فرصت څخه گټه پورته کړي، د عامه روغتیا پر وړاندې ننگونې لرې کولو ته دې لومړیتوب ورکړي او د انسانانو د ژوند او پرمختگ حقونو ساتلو ته دې لا زیاته پاملرنه وکړي.

چین لومړی هېواد دی چې د ملگرو ملتونو منشور یې لاسلیک کړ، چین د ملگرو ملتونو بنسټ ایښودونکی غړی او د امنیت شورا په دایمي غړو کې یوازینی پرمختللی هېواد دی. چین به تل د څو اړخیزم عمل کوونکی وي، په فعاله توگه به د نړیوالې حکومتدارۍ د سیستم په اصلاح او جوړونه کې برخه واخلي، په ټینگه به د ملگرو ملتونو نړیوال سیستم او د نړیوال قانون پر اساس نړیوال نظم وساتي او په نړیوالو چارو کې به د ملگرو ملتونو له کلیدي رول څخه ټینگ ملاتړ وکړي.

**ښاغلی رییس!**

نړۍ اوس نوی تاریخي پړاو پیل کړی. راځئ چې څو اړخیزم ته ژمن پاتې شوو او د انسانانو د گډ برخلیک ټولنې د جوړولو لپاره گډې هڅې وکړو، څو د ملگرو ملتونو په مشرۍ لا یو موټی شو او لا زیات بریالیتوب تر لاسه کړو.

**مننه!**

# د حکومت چوپتیا که کمزوري؟

## کابل ښار د طالبانو او وسله والو غلو د ټوپک تر شپېلۍ لاندې دی



سره له دې چې په دوحه کې بین الافغاني خبرې پیل شوې دي، خو په کابل او ولایتونو کې بیا وضعیت بل ډول دی. هره شپه سختې جگړې، پر لویو لارو د طالبانو مانورونه، پر ولسوالیو بریدونه، د سړک غاړې ماینونه او د افغان حکومت له لوري هوایي بریدونه هغه څه دي چې د افغان ولس له سترگو یې خوب او له ژوند ارام وړی دی.

لوی ښارونه بیا د جگړو تر څنگ د پراخو جنایي جرمونو له درکه هم له سترو خطرونو سره مخ دي. طالبانو بیا تازه د کابل ښار په ورودي لارو کې مانورونه کړي او ادعا کوي چې په کابل ښار کې د غلو د سترو شبکو پر وړاندې فعالیت کوي.

هغه مهال چې په دوحه کې بین الافغاني خبرې پیل شوې، د ولس ستره هیله دا وه چې په هېواد کې به روانه جگړه ختمه شي او یا به دایمي اوربند رامنځ ته شي، خو خبره برعکس ده. طالبانو او افغان حکومت د یو بل پر وړاندې عملیات پراخ کړي دي او جگړې شدیدې شوې دي. افغان حکومت طالبان ملامت بولي او د تاوتریخوالي د ډېرېدو پړه پر دوی اچوي، خو طالبان بیا وایي چې حکومت په گڼو ښارونو کې په لویو عملیاتو لاس پورې کړی او دوی اړ دي چې پر وړاندې یې مقاومت وکړي. طالبانو د خپلو جگړو په دوام د بامیانو او پنجشیر په څېر په امنو ولایتونو کې هم بریدونه کړي او ځان فعال ښیي.

تازه ورمه شپه طالبان د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ د غلام حیدرخان کلا سیمه کې د کابل کندهار لویې لارې ته راوتلي دي. دا د کابل ورودي دروازه ده او هره ورځ زرگونه موټرونه، حکومتي کاروانونه، مسافر او عام خلک پر دې لار تگ راتگ کوي. طالبانو په همدې سیمه کې ویډیویي فلم ډک کړی او په هغه کې د دې ډلې یو قوماندان چې ځان د ښاري عملیاتو غړی معرفي کوي، له موټر چلوونکو پوښتنې کوي. هغه ادعا کوي چې په دې سیمه کې وسله وال غله پیدا شوي او له خلکو یې مالونه او پیسې اخیستې، نو څکه دوی راوتلي چې د دغو غلاوو مخه ونیسي. طالبانو تر دې وړاندې د غزني په قره باغ ولسوالۍ کې هم د هغو وسله والو غلو پر وړاندې عملیات کړي وو، چې د یوه موټر د مسافرو توکي یې لوټ کړي وو او له مېرمنو سره یې غیر اخلاقي چلند کړی و.

ښایي دا لومړی ځل وي چې طالبان په داسې ښکاره توگه د کابل په دومره مهمه سیمه کې پر سړکونو درېږي او له خلکو پوښتنې کوي. په دې سیمه کې نږدې د افغان پوځیانو پوستې هم پرتې دي او کوم موټرونه چې کابل ته ننوځي، د دوی له لوري تالاشي کېږي هم. دې مسئلې د کابل اوسېدونکو ته اندېښنې پیدا کړې او د حکومت وضعیت یې له پوښتنې سره مخ کړی دی. یوازې دا نه په کابل ښار کې وسله والې غلاوې او جنایي جرمونو نور هغه څه دي چې ژوند یې له ستر خطر سره مخ کړی دی. په کابل ښار کې د ننه ښایي هېڅ داسې کورنۍ نه وي پاتې چې پخپله یا یې خپلوان له وسله والو غلو سره نه وي مخ شوي او یو څه یې ترې وړي نه وي. همدا څو ورځې وړاندې د کابل امنیه قوماندانۍ وویل چې ۱۹ وسله وال غله یې په کابل ښار کې نیولي دي. له دې اټکل کولی شئ چې په دغه ښار کې جنایي جرمونه او وسله وال غله په څه وضعیت کې دي.

د کورنیو چارو وزارت بیا وایي چې دوی د امنیتي میثاق په رامنځ ته کولو بریالي شوي چې د کابل گڼې سیمې امن کړي، خو سره له دې هم په کابل ښار کې ورځ تر بلې د جنایي جرمونو ډېربدل د اندېښنې وړ دي. دې هر څه د حکومت په اړه هم اندېښنې ولاړې کړې دي، په دوحه کې د بین الافغاني خبرو پایلې ته نه رسېدل، په کابل او ولایتونو کې سختې جگړې او د دې ټولو پر وړاندې د حکومت چوپتیا او بې پروايي د ولس لپاره ځورونکې او د پوښتنې وړ مسئله ده.

# د روغتیا نړیوال سازمان: ښایي کرونا وبا د واکسین تر جوړېدو له دوو میلیونو ډېر انسانان مړه کړي

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۳۲ میلیونه او ۸۰۷ زره او ۴۱۴ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله ۹۹۴ زره او ۳۸۳ تنه مړه شوي او له ۲۴ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي. په ورته وخت کې د امریکا د الرژۍ او عفوني ناروغیو د انسټېټیوټ مشر انتوني فاوچي وایي، تر هغو چې واکسین جوړېږي، ښایي د کرونا ویروس له کبله دوه میلیونه انسانان مړه شي. د دغه انسټېټیوټ مشر له خلکو غوښتي چې د کرونا د خپرېدو د مخنیوي لپاره روغتیایي اصول په پام کې ونیسي، څو له دې کبله د مړینو شمېر ډېر نه شي. په داسې حال کې چې په نړۍ کې په کرونا ویروس د مړینو شمېر یو میلیون ته نږدې کېږي، د امریکا د متحدو ایالتونو د ساري یا خپرېدونکو ناروغي متخصصان د دې وبا د خپرېدو د مخنیوي لپاره د هلوځلو د کمېدو پر وړاندې خبرداری ورکوي. دوی له خلکو غواړي چې بې احتیاطي پای ته ورسوي او تر هغو حوصله وکړي چې څېړونکي واکسین جوړوي. فاوچي وایي، نه غواړي چې یو وار بیا ټولې چارې په ټپه ودرول شي، خو که خلک د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره تدابیرو ته شا واړوي، یو وار بیا به د کرونا مثبتې پېښې اوج ته ورسېږي.

په ورته وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان یا ډبلیو اېچ او ویلي، د اغېزمن واکسین جوړېدو ته لا میاشتې – میاشتې وخت پاتې دی، نو که د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره تدابیر زیات نه شي، تر هغو پورې ښایي د دې وبا د مړو شمېر تر دوو میلیونو ډېر شي.

د روغتیا د نړیوال سازمان د بېړنیو روغتیایي پروگرامونو اجرایي رییس ډاکتر مایک رېن وایي چې د مړینو د شمېر د زیاتېدو مخه نیول کېدای شي. ده د عفوني مېکروب ضد موادو او ماسک کارول، د واټن رعایتول، ټېست کول او د کرنتین په شان د روغتیایي اصولو مراعاتول د دغه ویرس د خپرېدو د مخنیوي او د مړینو د کمېدو لپاره ضروري بللي دي.





د یادونې ده چې که څه هم ځینو هېوادونو د کرونا ضد واکسین د جوړولو ادعاوې کړې، خو په عملي ډول یې تر اوسه پروسه نه ده پیل شوې.

## د کتـــاب خبـرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

## لومړی فصل
### دڅېړنې کلیات




**٦ـ د ښوونې او روزنې په برخه کې همکاري**

د سیمې له هېوادونو سره د ښوونې او روزنې په برخه کې همکاري ډېره اغېزمنه او ګټوره ګڼل کېږي او په دې برخه کې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکارۍ لپاره ښه فرصتونه شته اوسمهال افغان محصلین د سیمې په ځینو هېوادونو لکه هند، روسیه، چین، ایران، پاکستان، بنګله دیش او د مرکزي اسیا په ځینو هېوادونو کې پر زده کړو بوخت دي . د ښوونې او روزنې په برخه کې د سیمه‌ییزې همکارۍ او اړیکو پراختیا د سیمې د هېوادونو ترمنځ د اعتماد او د باور فضاء په رامنځته کولو کې ډېره مرسته کولای شي، ایران له افغانستان سره د ښوونکو د روزنې او د دارالمعلمینو د جوړولو په برخه کې له پوهنې وزارت سره مرسته او همکاري کړې ده هند هم په دې برخه کې له افغانستان سره د پام وړمرستې کړې دي .

**٧ـ د روغتیا په برخه کې همکاري**

د افغانستان په ګاونډ کې ځینې هېوادونه، لکه ایران، پاکستان او هند د روغتیا په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی،دا چې یاد درې هېوادونه له جغرافیایي، فرهنګي او ژبني پلوه له افغانستان سره ډېر مشترکات او نږدې والی لري له همدې امله دغه هېوادونه کولای شي په روغتیایي برخه کې له افغانستان سره مرسته او همکاري وکړي. له دغو هېوادونو څخه روغتیایي متخصصین او روزونکي کابل ته د افغان ډاکترانو د روزنې لپاره استول کېدای شي او افغان ډاکتران د یادو هېوادونو روغتیایي مرکزونو ته د روزنې په موخه استول کېدای شي . له دغو هېوادونو څخه طبي وسایل او سامان الات افغانستان ته راوړل کېدای شي او په افغاني روغتیایي مرکزونو کې له هغو وسایلوڅخه استفاده کېدای شي .

**٨ـ د سیمه‌ییزو زېربناوو په برخه کې همکاري**

**ـ لویې لارې**

د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتیژۍ کې د لویو لارو او سړکونو جوړولو ته ځانګړې پاملرنه شوې، د دې ستراتیژۍ له مخې په لویو ښارونو کې حلقوي سړکونه او لویې لارې چې افغانستان به د ګاونډیو هېوادونو له پولو سره ترې، جوړې کړای شي . د ښارونو او ولایتونو دننه سړکونو او لویو لارو جوړول او کلیوالي سیمو ته د غځېدلو لویو لارو جوړول به لرې پرتې سیمې له ښارونو سره وترې .افغانستان له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره په پولو کې اته ٨ نښلیدونکي بندرونه لري چې ځینې یې ډېر پخواني او زاړه دي، لکه د شیرخان بندر چې بیا جوړېدو ته یې اړتیا لیدل کېږي. د سرحدي او سیمه‌ییزو بندرونو پراختیا او د سړکونو شبکې ته پاملرنه کول د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره مهم ګڼل کېږي .د بېلګې په توګه د افغانستان له لارې ایران له ازبکستان سره تړل به له ازبکستان سره مرسته وکړي چې نړیوالو بندرونو ته لار پیدا کړي .

**ـ د اورګاډي پټلۍ :**

په سیمه‌ییزه کچه د ترانسپورت او سوداګرۍ په برخو کې د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د د اورګاډي پټلۍ جوړېدل ډېر مهم ګڼل کېږي .افغانستان چې د کانونو پراخې زېرمې لري کانونه یې د اورګاډي د لارو په وسیله بهرنیو هېوادونو ته لېږدیدلای شي، د دې ترڅنګ له مرکزي اسیا او هند سره د سوداګرۍ د پراختیا په صورت کې د اورګاډي لارې د سوداګریزو توکو د لېږد لپاره تر ټولو ښه او خوندي وسیله ګڼل کېږي .

د مرکزي په اسیا هېوادونو کې د شوروي اتحاد له دورې راهیسې د ترانسپورت په برخه کې د اورګاډي له پټلۍ څخه استفاده کېږي، هند او پاکستان کې هم د بېلابېلو موخو لپاره د اورګاډي څخه ګټه اخیستل کېږي، خو په افغانستان کې بیا د اورګاډي پټلۍ نشته. د ایران ــ افغانستان، ایران ــ پاکستان، ازبکستان ــ افغانستان، ترکمنستان ــ افغانستان او د چین ـ افغانستان د د اورګاډي پټلۍ هغه پروژې دي چې په راتلونکي کې یې جوړېدل لومړیتوب ګڼل کېږي .

د افغانستان لپاره ډېره مهمه اواړینه ده، چې په لومړۍ مرحله کې خپله کورنۍ د اورګاډي شبکه جوړه کړي او بیا وروسته د افغانستان کورنۍ د اورګاډي شبکه د اورګاډي له سیمه‌ییزو شبکو سره تړل او یوځای کېدای شي . اوسمهال د اسلام قلعه ــ هرات، هرات ــ شیرخان بندر او مزارشریف ــ هرات ترمنځ د اورګاډي پټلۍ د جوړېدو په اړه څېړنې ترسره شوي دي. د سیمې د هېوادونو د اورګاډي له پټلیو سره د افغانستان یوځای کېدل به د افغانستان او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو له پراختیا سره ډېره مرسته وکړي .د ازبکستان د اورګاډي شبکې په وسیله افغانستان له روسیې، اروپا او اوکراین سره نښلول کېږي او ازبکستان به د د اورګاډي په وسیله چې له افغانستان څخه به تېرېږي له ایران او د مرکزي اسیا له نورو هېوادونو سره وتړل شي. **دوام لري...**

# ابو نصر د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي

د ابو نصر د لوړو زده کړو موسسې د بنسټ ډېره په ۱۳۹۴ کال کې په فراه ولایت کې د دوو پوهنځیو (حقوقو او سیاسي علومو او ښوونې او روزنې) په درلودلو سره ابښودل شوې ده. د لوړو زده کړو د دې موسسې رییس ښاغلی عبدالصمد وزیري وایي، موسسه یې له لوړو زده کړو وزارت سره ثبت ده او د دغه وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي. د ابو نصر د لوړو زده کړو موسسه اوس هم همدا دوه پوهنځي لري، چې د ښوونې او روزنې پوهنځی یې پنځه ډیپارټمنټونه (پښتو ادبیات، انګلیسي ادبیات، بیولوژي، کیمیا او ریاضي) لري او د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې بیا دوه ډیپارټمنټونه ( قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي) لري.

ښاغلی وزیري وایي، له فعالیت سره سم یې په فراه ولایت کې د مشرانو او ځوانانو لخوا تود هرکلی شوی او د محصلینو زیاته برخه یې ښځینه دي. دی وایي، اوسمهال د ۳۰۰ په شاوخوا کې محصلین لري، چې ۱۳۷ یې ښځینه محصلینې دي. نوموړی وایي، همدا اوس له سلو زیاتې نجونې د دې موسسې په حقوقو پوهنځي کې په لوړو زده کړو بوختې دي.

تر اوسه ۴۱۴ تنه له ابو نصر د لوړو زده کړو موسسې څخه فارغ شوي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړې دي. ښاغلی عبدالصمد وزیري وایي، چې په فارغ شویو محصلینو کې یې ښځینه او نارینه محصلین دواړه شامل وو، چې خپله په فراه ولایت او د هېواد په ځینو نورو ولایتونو کې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر دندو بوخت دي. دی وایي، هڅه یې کړې ده چې پر کارپوه او مسلکي کسان وروزي، څو ټولنې ته په ښه ډول خدمت وکړای شي.

عبدالصمد وزیري وایي چې په کال کې دوه ځله د کانکور ازموینه اخلي، په پسرلي او مني کې چې په هره کانکور ازموینه کې د ۱۳۰ په شاوخوا کې محصلین جذبوي. دی وایي، که امنیتي او اقتصادي شرایط سم وي، نو په هغه کال یې د نویو محصلینو د جذب کچه هم لوړه وي، خو دوی هڅه کوي چې له محصلینو څخه مناسب فیسونه واخلي، څو د فراه ولایت ټول هغه ځوانان لوړو زده کړو ته لاسرسی پیدا کړي، چې دولتي پوهنتونونه ته نه دي بریالي شوي او په خصوصي پوهنتونونو کې د فیسونو د لوړوالي له کبله لوړې زده کړې نه شي کولای.

په ابو نصر د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۴۰ مسلکي استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې ښځینه استادانې هم پکې شاملې دي. ښاغلی وزیري وایي، د دوی هڅه دا ده چې مسلکي او تجربه لرونکي استادان پر دندو وګوماري، څو مسلکي او پر کارپوه محصلین وروزي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي. دی وایي، استادان یې د ماسترۍ او لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. د وزیري په خبره، هغه استادان یې چې د لېسانس تر کچې پورې هم لوړې زده کړې لري، ډېر با تجربه او په خپل مسلک کې رسېدلي دي. وزیري وایي، هڅه یې دا ده چې په راتلونکي کې یې ټول استادان د ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې ولري.

د ابو نصر د لوړو زده کړو موسسې اداره د محصلینو لپاره بېلابېل تخفیفونه لري، چې لومړیتوب یې د شهیدانو، معلولینو او د امنیتي ځواکونو ورثه‌وو او د کورنۍ غړو ته ورکړی دی. ښاغلی وزیري وایي چې همدا اوس ۷ کسان له دوی سره په یادو دوو پوهنځیو کې پر زده کړو بوخت دي. دغه راز درې معلولین هم له دوی سره په وړیا ډول زده کړې کوي او د ځینو نورو لپاره یې مناسب تخفیف په پام کې نیولی دی. د دې تر څنګ، د لوړو زده کړو دغه موسسه یوه ځانګړې کمېټه لري چې محصلین ارزیابي کوي او هغه محصلین چې اقتصادي وضعیت یې ښه نه وي، د موسسې د ادارې لخوا ورته مناسب تخفیف ورکول کېږي، څو دغه کسان هم له زده کړو پاتې نه شي او لوړې زده کړې وکړي. د لوړو زده کړو دې موسسې ته یوازې له غرمې وروسته محصلین د زده کړو لپاره ورځي.

په ابو نصر د لوړو زده کړو موسسه کې د محصلینو لپاره مجهز کتابتون او لابراتوار په پام کې نیول شوي دي. ښاغلی عبدالصمد وزیري وایي چې په کتابتون کې یې د پوهنځیو اړوند او نور بېلابېل پنځه زره کتابونه ځای پر ځای کړي دي. دی وایي، محصلین او استادان یې کولای شي چې وخت ناوخت له دې کتابتون څخه ګټه واخلي او مطالعه پکې وکړي.

د وزیري په خبره، د ښوونې او روزنې پوهنځي د محصلینو لپاره یې په ټولو اړینو وسایلو سمبال یو لابراتوار هم چمتو کړی دی، څو محصلین وکولای شي د نظري زده کړو تر څنګ، په عملي ډول هم زده کړې وکړي. د کتابتون او لابراتوار تر څنګ یې محصلینو ته کمپیوټر لب هم چمتو کړی، چې پر انټرنېټ سمبال دی. دی وایي، محصلین کولای شي د کمپیوټر د زده کړې تر څنګ له انټرنېټ هم په وړیا ډول ګټه واخلي.

ابو نصر د لوړو زده کړو موسسې اداره تر اوسه پورې له هېواده بهر له کوم پوهنتون سره علمي اړیکې او یا هم د علمي اړیکو کومه هوکړه نه لري، خو هڅه یې دا ده چې په راتلونکي کې له هېواده بهر له ځینو پوهنتونونو سره ځینې هوکړې ولري. خو په کور د ننه خپله په فراه ولایت کې له دولتي او یوه خصوصي پوهنتون او د هېواد په نورو ولایتونو کې له ټولو پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري او وخت ناوخت د دې پوهنتونونو له تجربو ګټه اخلي او تر څنګ یې خپلې تجربې او ستونزې هم ورسره شریکوي.

د لوړو زده کړو د دې موسسې اداري تر اوسه پورې فارغ شویو محصلینو ته هغه ډیپلومونه نه دي ورکړي، چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ویشل کېږي، خو د پوهنتون د ادارې او لوړو زده کړو وزارت تایید شوې تصدیق نامې یې ورکړې دي، چې محصلین یې کولای شي په کومه اداره کې ور باندې دنده واخلي او یا هم په بهر کې ور باندې نورې لوړې زده کړې وکړي.

د کتابتون، لابراتوار او کمپیوټر لب تر څنګ ابو نصر د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو د وړتیا لوړولو لپاره یوه مجله لري، چې د کال په هر فصل کې د محصلینو مقالې پکې چاپېږي. د دې تر څنګ د لوړو زده کړو دغه موسسه یو څېړنیز مرکز هم لري، چې محصلین په بېلابېلو برخو کې څېړنې کوي او د خپلو څېړنو پایلې بیا د کنفرانسونو په بڼه له محصلینو او استادانو سره شریکوي او په مجله کې چاپېږي.

د نویو پوهنځیو ایجادول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع او د ماسترۍ پروګرام پیلول د ابو نصر د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي.

ښاغلی وزیري وایي چې اوسمهال له کومې خاصې ستونزې سره نه دي مخ او نه هم د لوړو زده کړو وزارت څخه کومه ځانګړې غوښتنه لري. دی وایي، د وزارت لخوا یې ستونزو ته په وخت رسیده‌ګي کېږي.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸۸,۹۰ |
| Rp. | ٤٦٥ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۷,۳۰ |

## بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# سوله؛ زموږ ستر ارمان

لیکنه: نقیب الله مل



معلومه نه ده او لا هم نه پوهېږو چې د سولې دا تږي خلک، لالهانده ځورېدلی او ارمانجن ملت به لا نور څومره د سولې د تندې په ارمان کې د مرگ او ژوند تر منځ سلگۍ وهي، یوځل د سولې غږ پورته شي، بیا هېڅ معلومه نه شي همداسې غیب خاموش شي، د توپانونو بوربوکۍ یې ایسار او په خپله مخه کړي، د جگړې د وحشت اور قصداً پسې لا خونړی او تیز شي.

یو ځل بیا پخوانۍ کیسه تکرار شي، په تورو تیارو کې غرق، د ناهیلي دردېدلي ولس کریغې اوچتې شي، په وینو لت پت شي، د بشر په توگه د ژوند له ټولو حقونو محروم، بې برخې، دربدره او محتاجه حیران شي.

د سپتمبر ۲۱مه هغه نېټه چې د ملگرو ملتونو لخوا د سولې ورځې په نوم نومول شوې، له ۲۰۰۲ کال راهیسې په گرده نړۍ کې یې نمانځنه کیږي، افغانستان کې هم دا ورځ نمایشي، سمبولیکه او یوازې تر څو لویو ښارونو محدوده د مشخصو ویناوالو او د کلیشه‌یي تکراري شعارونو تر بړاس لاندې د تیر ایستنې مسخره وړاندې کړي، ځان په حقه او بل ناحقه او ملامت وبولي، د تیر په څیر بیا هم هر څه هیر شي، موږ ولیدل چې د سولې ورځې په مناسبت غونډه کې ویناوالو د څه پیغام د ورکولو هڅه کوله، بیا هماغه د جنگ، زور زیاتي، برلاسۍ توند او نېشداره الفاظ ښکته پورته کېدل، هغه چې له یوې مخې د سولې روحیې ضد وو، نه پکې د سولې د ورځې درنښت و، نه د سولې او پخلاینې د پیل شوي بهیر د ملاتړ په اړه څه، په دې توگه زموږ د سولې دا ډول ډېرې فرصتونه د دغسې کړیو لخوا په لوی لاس قصداً تخریب شوي دي، که نه د بدمرغې جگړې دا ناورین به ولې دومره اوږدېدو او دوام به یې کاوه.

تر دې ټولو وړاندې، سوله زموږ په دین کې، په اسلامي احکامو او ارشاداتو کې لوړه او ارزښتمنه ده، پر سولې، پخلاینې، جوړجاړي او ښښې باندې ټینگار شوی دی، خیر او غوره بلل شوې ده، خو زموږ سولې ته زیان تر ډېره هغو ډلو ټپلو رسولی او رسوي چې له نومونو سره یې د اسلام سپېڅلي مختاړي یا وروستاړي تړلي دي.

له دې مقدسو نومونو دا ځلوېښت کاله کیږي چې د تیر ایستنې لوبه یې گرمه او روانه ساتلې ده.

جگړې هر وخت او هر ځای د انسانانو د لویې تباهۍ سبب شوې دي، د نړۍ د دوو نړیوالو سترو جگړو ناورینونو او تباهیو باندې د تاریخونو پاڼې ډکې دي، تل به د تاریخ په لعنت کې وي، هغه چې موږ د ورته پېښو د تکرار په اړه څیر، ویښ او بیداره ساتي، څو د شریرو او شرخوښو د دسیسو په لومو کې گیر او بند نه شو.

د افغان جگړې یو څرگند لامل له همدې سره تړلی دی، په پټو سترگو د سرونو لو گډ دی، پردي نامریي لاسونه په سپین سترگۍ سره لگیا دي په یو او بل نوم پروپاگند کوي، اوبه خړوي، خپلې گټې لټوي او د جنگ اور تازه ساتلو ته ناروا دلایل توږي.

که تش په نامه سیاسي څېرې او گوته په ماشه جگړه ماران یوازې د شلمې پېړۍ د دوو نړیوالو جنگونو پر پس‌منظر او پېښو مکث وکړي، په ډېرو خبرو به یې سر خلاص شي، له دې پرته که یوازې د هیواد بدمرغیو، د تباهۍ او د بربادیو د څلوېښت کلن جنگ کیسو انځور ته هم یوه شېبه تم شي، حتماً به په هوښ راشي او د سرتمبگۍ موډ به یې نرم شي، سملاسي به پوه شي ولې د څه لپاره د نورو په اشاره د خپل وطن او خلکو تباهۍ ته اړم دي.

د پردیو لخوا تپل شوې ۴۳ کلنه جگړه دې الله نوره نه اوږدوي، دې جگړې په افغان خاوره د وینو خونړي سیلابونه بهولي دي، د میلیونونو انسانانو ژوند یې اخیستی، په میلیونونو ژوبل شوي، دربدره شوي، کډوالۍ ته اړ شوي دي. دا ناورین او ناتار دا څه باندې څلوېښت کاله کیږي چې هره ورځ تکرار روان دی، د جگړه‌مارو په کینو تور شوي زړونه لا هماغسې تور دي، پاک او سپین شوي نه دي، دا چې د خپل ملت او هیواد له قصدي تباهۍ کله لاس اخلي، معلومه نه ده.

د افغانستان د څه باندې څلورو لسیزو جگړه یوه له اوږدو او خونړیو جگړو ده، څو نسلونه یې خوړلي او له خپل کومي تیر کړي دي، ناوړه تاثیرات به یې له جگړې وروسته هم له بده مرغه اوږده موده په ټولنه کې پر ځای پاتې وي.

د ۲۰۱۸ کال په پای کې د امریکا او طالبانو تر منځ د رسمي تماسونو په لړ کې د سولې لپاره د افغان ولس مړ ژواندې هیلې یو ځل بیا تازه شوې دي، د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد په مشرۍ د ناستو او سفرونو په نتیجه کې د ۲۰۱۹ کال د فبرورۍ په ۲۹مه د قطر په پلازمېنه دوحه کې لومړی د طالبانو او امریکا تر منځ د جوړ جاړي سند لاسلیک شو، په افغانستان کې د جگړې پای ته رسېدو، د بهرنیو عسکرو پړاو په پړاو وتلو ته او د افغانانو خپلمنځي خبرو لپاره د فرصت جوړول یې بل او دویم گام و. له نېکمرغه دا گام هم پورته شوی، ښکېل طرفونه د لومړي ځل لپاره د خبرو مېز ته ناست دي، د ټولو هیلې ورسره تړلې او د پاملرنې وړ خبرې اترې روانې دي، هیله او دعاگانې دي چې له برکتونو سره مل اوسي.

دا پړاو که څه هم لږ په ځنډ د سپتمبر په ۱۲مه پیل شوی، هیله ده چې د جوړجاړي او دایمي سولې باعث شي، د دواړو خواوو د تماس گروپونه په خبرو بوخت دي، څو د خپلمنځي خبرو اجنډا او طرزالعمل جوړ او بشپړ کړي، خو د دوو اونیو په تېرېدو سره بیا هم د تماس ډلو تر منځ په خبرو کې د پرمختگ کوم څرک نه لیدل کیږي. هیله ده د ولس له توقع سره سمې خبرې تر سره او پر مخ بوځي، خو بیا هم دا بهیر سخت دی، انتظار او وخت ته اړتیا لري، حتماً به پکې د دواړو لوریو تر منځ د ناندریو اوږده پړاوونه وي، خبرې د ژورو هوارول او صافول غواړي، څو د حل منلې لاره رامنځ ته او برابره شي.

دواړه طرفونه باید زغم او حوصله ولري، ستړي او ناهیلي نه شي، د مذاکراتو مېز پرې نښودل شي، د څلوېښت کلنې جگړې پر اور باندې اوبو تویولو ته زمینه مساعده کړي، د خدای او ولس په وړاندې مسوولیت ادا او غاړې خلاصې کړي.

په دې حساس وخت کې باید د باور فضا جوړولو لپاره د پخلاینې او جوړونې پیغامونو په وړاندې کولو او هلو ځلو ته توجه او پرې تمرکز کول پکار دي. د سولې ټولې هغه مخربې داخلي او بهرنۍ کړۍ چې په هره سطحه او کچه دي، د هغوی مخه په پوره قوت ډب او ونیول شي، ورته اجازه ورنه کړل شي چې د سولې دا فرصت د ځینو کړیو د دښمنانه برخورد ښکار شي، د سولې دا طلایي فرصت د ولس او هیواد ژغورنې د بقا فرصت دی، کامیابۍ ته د رسولو لپاره یې موږ ټول مکلفیت لرو، هیله او تمه ده چې خدای تعالی د ښکېلو خواوو په زړونو کې رحم، زړه سوی او د وطن دوستۍ احساس پیدا او ژوندی کړي. د پخلاینې او جوړجاړي خبرې تر وروستي پړاوه پر مخ ولاړې شي.

د جگړې له امله رامنځ ته شوي زیانونه بې شمېره او درانه دي، د ملي ښېرازۍ مراندې کمزوري او زیانمن شوي دي، په دې حساس وخت کې لږ بې احتیاتي د لوی زیان او مشکل سبب کېدلی شي، د جگړو تاثیرات له ورایه محسوس دي، د جگړې اور له هېڅ کور، کلي او سیمې لرې نه دی پاتې شوی، هېڅوک یې له تاوه خوندي نه دي پاتې شوي، دا سلسله څه باندې څلوېښت کلونه کیږي چې روانه ده، هره ورځ له بلې نابرې خونړۍ پېښې څخه په وېره او اندېښنو کې شپې ورځې سبا کیږي.

د سولې هیله، د افغان ولس دا غوښتنه، مه پرېږدئ چې یو ځل بیا تته او مړاوې شي، مه پرېږدئ چې دا حق بیا د پټو دسیسو په لومو کې ایسار شي، د گوتو په شمار ځینې څېرې او کړۍ چې ښکاره او پټې فعالې دي، د پردیو په لمسون د خنډونو په جوړولو او رامنځ ته کولو اخته دي.

په یقین سره که دغه کړۍ له خپلو شخصي گټو او غرضونو تیرې شي، زور کارونې، د ولس او هیواد له یرغمل نیونې لاس واخلي، د خلکو او هیواد په سرنوشت لوبې کول بس کړي، سوله لرې نه ده، سوله حتمي ده انشاءالله راتلونکې ده.

## عامې روغتیا وزارت: هېواد ته په کلني ډول تر شپږ سوو میلیونو ډالرو درمل له بهره واردېږي



په داسې حال کې چې د عامې روغتیا وزارت تېره ورځ د فارمسستانو یا درمل جوړوونکو نړیواله ورځ ونمانځله، خو لاهم په لویه پیمانه درمل له بهر څخه افغانستان ته واردېږي.

د عامې روغتیا سرپرست وزیر جواد عثماني په دې تړاو جوړې شوې غونډې ته وویل، چې په افغانستان کې د درملو جوړولو لپاره له ډېرو فرصتونو برابرولو سره سره، اوس هم په ډېره اندازه درمل له بهرنیو هېوادونو واردېږي.

هغه زیاته کړې: «په کلني ډول شاوخوا له ۴۰۰ څخه تر ٦۰۰ میلیونو ډالرو پورې زموږ درمل له نورو هېوادونو څخه واردېږي، دا ډېره ستره پانگه ده چې له هېواد نه وځي، که موږ په خپل هېواد کې درمل جوړونې په برخه کې ډېر او لازم فرصتونو او ظرفیتونو رامنځته کړو، نو موږ به دغه پیسې د هېواد ملي عوایدو ته ور اضافه کړو.»

عثماني وايي، د عامې روغتیا وزارت له خوا د درمل جوړوونکو د ظرفیت لوړونې پروگرامونه پیل شوي او په نږدې راتلونکي کې به په دې برخه کې نور کوټلي گامونه هم پورته شي.

د یادونې ده چې د فارمسستانو یا د درمل جوړوونکو نړیوال فدراسیون شاوخوا یوه پېړۍ وړاندې د سپتمبر په ۲۵مه د هالنډ په هاگ ښار کې د څو هېوادونو د گډ کار په پایله کې جوړ شو.

د دغه فدراسیون د شمېرو له مخې، اوسمهال په ټوله نړۍ کې شاوخوا درې میلیونه درمل جوړوونکي شته چې د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو پر بنسټ اته زره یې په افغانستان کې دي.

یاد وزارت دا هم وايي، چې په افغانستان کې شاوخوا ٦۰ درمل جوړوونکې فابریکې او د ۱۴ زرو په شاوخوا کې درملتونونه فعالیت لري. د عامې روغتیا وزارت له تېرو پنځو کلونو راپه دېخوا د فارمسستانو یا درمل جوړوونکو نړیواله ورځ نماځي. سږکال بیا دغه ورځ په داسې حال کې نماځل کېږي چې په یاد هېواد کې کرونا ویروس خپور دی او ډاکټرانو، درملو او درمل جوړوونکو ته د خلکو اړتیا تر پخوا ډېره ده.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202520100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



یکشنبه د ۱۳۹۹ د تلي شپږمه | د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۲۷مه | ۶۰۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲٤ | ۲٦ | ۳۱ | ۳۱ | ۳۳ | ۲۸ |
| ۱۳ | ۱٦ | ۱٦ | ۲۰ | ۲۲ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۱ | لمر ختل ۰۵:٤۳ | ماسپښین ۱۱:٤٦ | مازيګر ۰۳:۱۱ | ماښام ۰۵:٤٦ | ماخوستن ۰۷:۱۰

## نړۍ



**د روغتیا نړیوال سازمان: ښايي کرونا وبا د واکسین تر جوړېدو له دوو میلیونو ډېر انسانان مړه کړي** ۳

## عمران خان: اسلام‌آباد از برقرای آتش‌بس در افغانستان حمایت می کند



سخن‌گوی ریاست جمهوری گفته که محمد اشرف غنی، رئیس‌جمهورغنی با عمران خان، نخست‌وزیر پاکستان از طریق تلیفون در باره روند صلح و ضرورت برقراری آتش‌بس در افغانستان بحث و گفت‌وگو کرده‌اند. نخست‌وزیر پاکستان در این تماس تلیفونی گفته که کشورش از برقراری صلح در افغانستان حمایت می‌کند. صدیق صدیقی، سخن‌گوی ریاست‌جمهوری گفته است، در این تماس تلیفونی رئیس‌جمهوری از عمران خان دعوت کرده‌است که به افغانستان سفر کند. سخنگوی ریاست جمهوری در توییترش نوشت که نخست‌وزیر پاکستان در پاسخ به دعوت آقای غنی گفته که «در آینده نزدیک» از کابل دیدار خواهد کرد. وزارت خارجۀ پاکستان نیز با نشر خبرنامه‌یی گفته که عمران خان در این تماس تلیفونی بر اهمیت اعلام آتش‌بس از سوی تمامی طرف‌های درگیر در افغانستان تأکید کرده و افزوده است که اسلام‌آباد از تصمیم‌های هیأت مذاکرۀ صلح افغانستان پشتی‌بانی خواهد کرد. نخست‌وزیر پاکستان در یک پیام ویدیویی که در هفتادوپنجمین نشست مجمع عمومی سازمان ملل در نیویارک پخش شد، گفت که جنگ افغانستان راه حل نظامی ندارد و تنها راه حل برای پایان دادن به جنگ، توافق سیاسی است. نخست‌وزیر پاکستان در پیوند به مذاکرات صلح افغانستان گفته که کشورش نقش تسهیل‌کننده را در این روند بازی کرده و حالا مسئولیت رهبران افغانستانی است که چطور از این فرصت تاریخی استفاده می‌کنند. نخست‌وزیر پاکستان در حالی از نقش کشورش در روند صلح یاد می‌کند که افغانستان همواره این کشور را به تمویل و تجهیز طالبان متهم کرده است، اتهامی که بارها از سوی اسلام‌آباد رد شده است.

## ټرمپ: ډیموکراټان هڅه کوي چې د پُست له لارې د ټاکنو په ترسره کېدو سره درغلي وکړي



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ وايي، د غیر حضوري رايې اچونې کلک مخالف دی، خو سیال یې جوبایډن خلک هڅوي چې رایه ورکړي. ټرمپ زیاته کړې چې ډیموکراټان له دې لارې په ټاکنو کې درغلي کوي.
غیر حضوري رایه ورکول د هغو خلکو لپاره ده چې نه غواړي د ټاکنو په ورځ د رايې اچونې مرکز ته ولاړ شي. ټرمپ ویلي، چې غیر حضوري رايې اچونه درغلیو ته لار جوړوي.
هغه زیاته کړې: «هغوی غواړي اتیا میلیونه رای پاڼې ولېږي، دا ډیموکراټان دي، دوی هڅه کوي چې په دې ټاکنو کې درغلۍ وکړي.» ټرمپ چې له اول سره د غیر حضوري (پُست له لارې یا د انټرنېټ په وسیله ) د رایې له کارولو سره مخالف و، دا وروستۍ څو ورځې یې غبرګون لا پسې جدي شوی او د ډېرو پام یې ور اړولی.
نوموړي ویلي: «موږ به وګورو چې څه کېږي، تاسو پوهېږئ چې ما د پُست له لارې د رایې د کارولو پر وړاندې سخت شکایت کړی او د پُست له لارې رایه ورکول یوه غمیزه ده.»
ټرمپ ویلي چې د امریکا ټاکنې به د دغه هېواد ستري محکمې ته راجع شي او دا محکمه به یې په اړه پرېکړه کوي. په ورته وخت کې د واک د سوله ییز انتقال په اړه د ټرمپ څرګندونو ګڼ غبرګونونه هم پارولي دي. کله چې د ولسمشرۍ ټاکنو له ډیموکراټ کاندید جوبایډن څخه د ټرمپ په څرګندونو د نظر غوښتنه وشوه، هغه وویل چې ټرمپ ډېر غیر منطقي شیان وايي.

## راپورونه: د اوکراین د یوې پوځي الوتکې د لوېدو په پېښه کې ۲٦ کسان مړه شوي

د اوکراین چارواکي وايي چې د یوې پوځي الوتکې د غورځېدو په پېښه کې ۲٦ کسان مړه شوي دي. چارواکي وايي، الوتکه د اوکراین له مرکز کیف څخه ۴۰۰ کیلومتره لرې د «خارکیف» په سیمه کې د «چوهوییف» په هوايي ډګر کې ښکته کېده، چې غورځېدلې ده.
د خارکیف والي اولیکسي کوچیر ویلي چې په الوتکه کې ۲۷ کسان سپاره وو چې ۷ افسران او ۲۰ پوځي زده کوونکي وو او د دوی له ډلې ۲٦ تنه مړه شو او یوبل یې په سخت حالت کې روغتون ته لېږدول شوی دی.
کوچیر دغه راز زیاته کړې چې یو پیلوټ ویلي وو چې د الوتکې په انجن کې څه ستونزه شته، خو وايي چې دا ډول ستونزې باید د یو مجرب پیلوټ لپاره دومره حساسې نه وای.
د راپورونو له مخې، الوتکه انتونو ان-۲٦ ډوله وه او اکثریت سپاره یې د خارکیف د هوايي ځواک د پوهنتون زده کوونکي وو. چارواکي وايي چې الوتکې تمریني پروازونه کول.
په ورته وخت کې د اوکراین د ولسمشر ویلادیمیر زیلېنسکي دفتر وايي چې یو کمېسیون ته دنده سپارل شوې چې د الوتکې د غورځېدو عوامل او څرنګوالی معلوم کړي.

## ژوند


### څنګه هره ورځ سپما وکړو؟



تاسو که په هر ډول اقتصادي پوړ کې وی، که مو عواید ډېر وي او یا هم لږ، خو که په عاقلانه ډول پیسې مصرف نه کړی، لږ نه ډېر به له داسې حالت سره مخ شی چې جیب به مو خالي او فکر به مو خراب وي. همدا راز که مو هرڅومره اقتصادي حالت خراب وي، کافي ده چې پوه شی مصارف او عواید مو څه ډول سره تنظیم کړی، څو له خپلو پیسو څخه سمه ګټه واخلی او ډېر لږ له مفلسۍ سره مخ شی. په دې لیکنه کې هم پر دې تم شوي یو چې پیسې څه ډول ولګوو او څه ډول د اضافي مصارفو مخه ونیسو، څو له احتیاجه خلاص شو، په خوښۍ کې ژوند وکړو او په څنګ کې مو ورسره د سبا غم هم خوړلی وي. عواید او مصارف مو سره پرتله کړئ. اړین مصارف، د کور کرایه، د اوبو او برېښنا بېلونه هم پرې ور زیات کړئ. له اړینو مصارفو مې موخه غذایي مواد، کالي او … دي.

### سامسُنګ د ګلکسي‌ایس۲۰ نوې بڼه معرفي کوي

سامسُنګ کمپنۍ غواړي له ګلکسي نوټ۲۰ او ګلکسي زي فولډ ځیرکو موبایلونو وروسته د ګلکسي ایس۲۰ ځانګړې بڼه، چې ګلکسي ایس۲۰ فېن ایډېشن نومول شوې ده، خرڅلاو ته وړاندې کړي. تقریباً له دوو میاشتو راهیسې د دغه ځیرک موبایل ځینې معلومات افشا شوي او د دغه ځیرک موبایل ډیزاین او ځینې ځانګړنې یې په ډاګه کړې دي. خو اوس سامسُنګ کمپنۍ اعلان کړی چې د سپټمبر په ۲۳مه د یوې رسمي غونډې له لارې به ګلکسي ایس۲۰ فېن ایډېشن (FE Galaxy S۲۰) خپلو مینه‌والو ته معرفي کړی. د دې غونډې لپاره د استول شویو بلنلیکونو نښان ته په کتو سره، اټکل کېږي چې د ګلکسي ایس۲۰ دغه بڼه به په



ډېرو مختلفو رنګونو کې خرڅلاو ته وړاندې شي. د ګلکسي ایس۲۰ ایف ای افشا شوې ځانګړنې له ۵جي څخه ملاتړ کوونکې بڼه کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۸٦۵ ډوله پروسېسر او ۴جي څخه ملاتړ کوونکې بڼه کې اګزینوس ۹۹۰ ډوله پروسېسر، ٦,۵ انچه سوپر امولېډ ډوله مخ‌پاڼه، ٦,۵ انچه سوپر امولېډ ډوله مخ‌پاڼه او د ۱۲ هرتز ریفرش ریټ څخه د ملاتړ وړتیا لري.


## د انجوګانو لپاره جاري حساب

عزیزي بانک د انجوګانو لپاره ځانګړی محصول طراحي کړی. د انجوګانو لپاره د جاري حساب د طراحي موخه، د انجوګانو د معاملاتو لپاره جلا سېستم، غوره او ارزښتمنې چوپړتیاوې او یاد سکتور سره د اړیکو ښه مدیریت دی. د انجوګانو حساب په څلور اسعارو: افغانیو/ډالرو/یورو/انګلیسي پوندو پرانېستل کېدای شي.
د لازیاتو معلوماتو لپاره له 1515/0093701801515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ او یاهم د عزیزي بانک له نږدې ځانګې څخه لیدنه وکړئ




عزیزي بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af 1515